مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۱۶مه | د ۲۰۲۱ د اپرېل پنځمه | ۷۰۳یمه ګڼه

# د ترکیې د کنفرانس په درشل کې؛

## طالبان او حکومت د یو بل پر وړاندې د جګړو د شدت خبرداري ورکوي



۳

### له کابله ترکیې غونډې ته څو طرحې وړل کېږي؟
۲ مخ

### ترکیه؛ له تاریخي ملګرتیا بیا د افغانستان سوله کې تر منځګړیتوبه
۲ مخ

### د سولې خبرې؛ افغانستان کوم لور ته روان دی؟
۳ مخ


## کاروبار
۴ مخ

### فراري

فراري د موټر جوړونې هغه ایټالیایي کمپنۍ ده، چې پر موټر جوړونې سربېره، په ځینو نورو برخو کې هم نړیوال نوم او د پلور ښه بازار لري.



### هوایي چلند اداره: د خوست هوایي ډګر به ډېر ژر ګټې اخیستنې ته وسپارل شي



د خوست د هوایي ډګر مسوولین وایي، چې د دغه ولایت د هوایي ډګر له جوړېدو سره به د خوست کرنیز او نور محصلات د نړۍ بېلابېلو برخو ته په اسانۍ صادر شي.
دا په داسې حال کې ده چې تازه د ملکي هوایي چلند ادارې په یوه اعلامیه کې ویلي، چې د خوست هوایي ډګر به ډېر ژر ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.
د خوست د هوایي ډګر امر عبدالصمد تڼیوال ویلي: «د خوست تولیدات، خصوصاً جلغوزي او غوزان (چهارمغز) به په اسانۍ د نړۍ هېوادونو، اروپا او جرمني ته صادرېږي. له دې هوایي ډګر به خلک حج ته هم ځي. خوست به په راتلونکي کې د افغانستان د سوداګرۍ یو څلورلاری وي.»
د ملکي هوایي چلند اداره وایي، چې دغه هوایي ډګر د ۱۰ کلونو پر مهال په پنځو پړاوونو کې د یو میلیارد او ۸۰۰ میلیونه افغانیو په لګښت جوړ شوی دی.

### لویدیځ رسنۍ: له افغانستانه د ځواکونو ایستل به امریکا ته په ستره بیه تمام شي

دې هېل نشریې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتلو ته په اشارې یوه لیکنه خپره کړې ده. په دې لیکنه کې راغلي، چې له افغانستان څخه به د امریکایي ځواکونو وتل له خطره خالي نه وي او دا چاره به متحده ایالتونو ته په ستره بیه تمامه شي.
په لیکنه کې وړاندې راغلي چې په دغه هېواد کې د کم شمېر سرتېرو پاتې کېدل که له سیاسي اړخه د هوساینې باعث کېږي، خو په ستراتېژیکه توګه یوه ناکامي بلل کېدای شي؛ ځکه چې د ورځپاڼې په باور دا مسئله به د اټومي دولتونو په ګډون د امریکا دښمنان زړور کړي او دا زړورتیا به د دې سبب شي چې هغوی داسې ستراتېژۍ او برنامې جوړې کړي، چې په اوږدمهال کې به د امریکا ګټې له ګواښونو سره مخ کړي.
په یاده لیکنه کې وړاندې راغلي، چې د افغانستان په څېر ستراتېژیکه سیمه کې د امریکایي ځواکونو حضور د امریکا له لپاره خورا اړین دي او که چېرته دوی له دغه هېواده ووځي، نو د امریکا ضد لوبغاړي به خپلې هغه ستراتېژۍ بدلې کړي، چې د امریکا د حضور په وخت کې یې نه شوا بدلولی.

### د بشري حقونو کمېسیون: د ملکیانو زیاتېدونکې مرګ ژوبله د اندېښنې وړ ده




۵ مخ

### در انفجار موتربمب در پغمان سه نیروی امنیتی کشته و ۱۲ نیروی دیگر زخمی شدند



فرماندهی پولیس کابل می‌گوید که در پی انفجار موتر بمب‌گذاری‌شده در ولسوالی پغمان این ولایت ۳ نیروی امنیتی کشته شده‌اند. فردوس فرامرز، سخنگوی فرماندهی پولیس کابل می گوید که این انفجار عصر دیروز (یک‌شنبه) رخ داده است.
فرامرز می‌افزاید که این انفجار با استفاده از یک موتر نوع کرولای پُر از مواد انفجاری در نزدیکی وسایط نظامی در ساحهٔ «پنجه‌چنار» ولسوالی پغمان صورت گرفته است.
به گفتهٔ او، در پی این انفجار ۳ نیروی امنیتی کشته شده و ۱۲ نیروی امنیتی دیگر زخم برداشته‌اند. سخنگوی فرماندهی پولیس کابل نیز می گوید که چه‌گونه‌گی وقوع این روی‌داد زیر بررسی تیم مشترک امنیتی قرار دارد. به گفتهٔ فرامرز، در صورت تغییر در ارقام تلفات، معلومات را با رسانه‌ها شریک می کند.
این در حالی‌ست که صبح دیروز نیز یک رنجر نیروهای امنیتی در ساحهٔ بند قرغهٔ ولسوالی پغمان هدف انفجار ماین کنار جاده‌یی قرار گرفت که در اثر آن یک نیروی امنیتی کشته شد و سه نیروی امنیتی دیگر زخمی شدند.
هنوز فرد یا گروهی مسئولیت انفجارهای امروز در کابل را برعهده نه گرفته است.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

# له کابله ترکیې غونډې ته څو طرحې وړل کېږي؟

د مصالحې عالي شوار وايي چې دوی د ترکیې غونډې لپاره جوړې شوې بېلابېلې طرحې ارزوي او یوه معقوله طرحه به ترې را وباسي.
د مصالحې عالي شورا وايي چې پرون په دې اړه یوې کمېټې غونډه هم کړې او شاوخوا دېرش طرحې چې د سیاسي ګوندونو، مدني ټولنې او حکومت له خوا وړاندې شوي، تر ارزونې لاندې دي. د مصالحې عالي شورا وایي چې دوی به له دې طرحو څخه یوه داسې طرحه را وباسي، چې ټولو اړخونو ته د منلو وړ وي او د ترکیې غونډې ته به له یوې طرحې سره ورځي.
د افغان سولې په تړاو په ترکیه کې د طالبانو، حکومتي مشرانو او مطرحو سیاستوالو ترمنځ یوه برخلیک ټاکونکې غونډه جوړېږي. دا غونډه چې ویل کېږي لس ورځې به دوام کوي، ټاکل شوې چې د اپریل په ۱٦مه جوړه شي، خو پکې د ځنډ شونتیا شته. د ښکېلو اړخونو مشران به په دې غونډه کې د سولې په تړاو اساسي پرېکړه کوي. د دې غونډې په تړاو د خبرونو له پیل سره د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په نارسمي ډول یوه طرحه هم له ښکېلو اړخونو سره شریکه کړې وه. په دې طرحه کې د سولې د انتقالي حکومت وړاندیز شوی، چې باید په ترکیه کې پرې هوکړه وشي.
د خلیلزاد هڅو او په ځانګړي ډول د سولې د انتقالي حکومت طرحې په کابل کې چارواکي خپه او اندېښمن کړل او له طرحې سره یې مخالفت وکړ، خو وروسته یې له خپله اړخه د یوې طرحې خبره وکړه. په دې طرحه کې له وخت وړاندې د ټاکنو خبره شوې او ورسره اوربند هم غوښتل شوی دی. په کابل کې د حکومت له دې طرحې سره مخالفتونه وشول او آن داسې ښکارېدله چې د مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله هم له دې طرحې سره موافق نه دی. په دې وروستیو کې دا خبره هم را پورته شوه چې ګواکې د ترکیې غونډې ته به له کابل څخه یوه طرحه نه ورځي، بلکې څو طرحې به وي. حکومت به له وخت وړاندې د ټاکنو طرحه وړاندې کړي. ډاکټر عبدالله د سولې انتقالي حکومت طرحې ته نږدې یوه طرحه وړاندې کوي او ځینې نور سیاستوال به هم طرحې ولري. ویل کېږي چې ډېرې طرحې جوړې شوي او له دې ډلې یې ۳۰ هغه د مصالحې له عالي شورا سره شریکې شوې هم دي. که له کابل څخه د ترکیې غونډې ته څو طرحې ورځي او غړ واحد نه وي، نو نه یوازې دا چې د دې اړخ پر دریځ به منفي اغېز وکړي، بلکې د سولې پروسه به هم له ستونزو سره مخ کړي.
له دې اندېښنې سره سره چې د ترکیې غونډې ته به له کابل څخه ورتلونکي کسان څو طرحې ولري، د مصالحې عالي شوار وایي، متفاوتې طرحې ارزوي او له ټولو څخه به یوه داسې ګډه طرحه را وباسي چې هم معقوله وي او هم یې ټول اړخونه ومني. که د مصالحې عالي شورا وتوانېږي چې د ترکیې غونډې ته له کابل څخه ورتلونکی پلاوی په یوه غږ کړي، دا به مهم ګام وي، خو داسې نه ښکاري چې ټول اړخونه به واحد غږ پیدا کړي او یا دې ارګ د مصالحې د عالي شورا په غوښتنه له خپلې طرحې او دریځ څخه تېر شي.

# ترکیه؛ له تاریخي ملګرتیا بیا د افغانستان سوله کې تر منځګړیتوبه

بي‌بي‌سي- پښتو

په داسې حال کې چې د افغان سولې بهیر یو حساس پړاو کې دی، ترکیه د استانبول غونډې د کوربه‌توب لپاره پر تیاریو بوخته ده. ډېری خلک دا غونډه د ۲۰۰۱ کال له بُن کنفرانس سره پرتله کوي چې د افغانستان د نوي نظام بنسټ یې کېښود.
د امریکا د نوي ولسمشر جو بایډن په راتګ سره امریکا په نړیوالو اړیکو کې څو اړخیزه سیاست غوره کړی، چې د سیمې لوبغاړو هېوادونو لېوالتیا د پخوا په پرتله افغان سولې بهیر ته ډېره شوې او ډېرې سترګې اسلامي هېواد ترکیې ته واوړي چې په وروستیو دوو لسیزو کې یې خپل سرتېري افغانستان ته رالېږلي وو.
د ځینو سرچینو د وینا له مخې، د استانبول کنفراس به د رواني اپرېل په ۱٦مه چې د حمل میاشتې ۲۷مه کېږي، تر سره شي. یاده غونډه د افغانستان لپاره برخلیک ټاکونکې بلل شوې.
د لسو ورځو لپاره به د افغان دولت لوړپوړي چارواکي، طالبان او ځینې نور سیاسي اړخونه د افغانستان د راتلونکې په اړه پرېکړه کوي.
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن لخوا د ترکیې د کوربه‌توب له وړاندیز وروسته، په افغانستان کې د انقرې د سولې پالیسي فعاله شوې او د ترکیې رول او منځګړیتوب د اړخونو تر منځ مهم یاد شوی.
د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد په تېر یو کال کې څو ځلې ترکیې ته تللی دی.
د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر چاووش اغلو وایي، له افغانستان سره یې د سولې په خبرو کې دریځ یو دی او د استانبول کنفراس یې د دوحې د خبرو دوام یاد کړی.
د افغانستان په سوله کې د ترکیې رول
تېره اونۍ تاجکستان کې د اسیا زړه هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو کلنۍ ناسته تر سره شوه، چې له ۲۰۱۱ کال راهیسې د کابل او انقرې په نوښت رامنځته شوې او د سیمې هېوادونو په پرتله د افغان سولې په اړه د باور جوړونې او نوښت رامنځته کولو په برخه کې جامع یادېږي.
یاده غونډه کې پر ۱۷ هېوادونو سربېره، ملګرو ملتونو او ځینو نړیوالو سازمانونو هم حضور درلود.
ترکیه د شمالي اتلانتیک سازمان (ناټو) یوازینی اسلامي هېواد دی، چې په افغانستان کې ځواکونه لري. دغه هېواد د ۲۰۰۱ کال نوې دورې له پیل راهیسې د ایساف او قاطع ماموریت په چوکات کې افغانستان کې نظامي حضور لري.
ترکیه د نړیوال ائتلاف هېوادونو او غیر ناټو هېوادونو د ځواکونو تر منځ اووم مقام لري او په وروستیو دوو لسیزو کې د افغانستان په زېربنایي پروژو او امنیت برخه کې یې د یو میلیارد ډالرو مرسته کړې.
ترکیه او طالبان
د دوو لسیزو په تېرېدو سره چې د ترکیې هېواد په افغانستان کې نظامي حضور لري؛ خو بیا هم د طالبانو نظر د دغه هېواد په اړه بد نه دی او د ترکیې هېواد یوازې یو سرتېری په ۲۰۱۵ کال کې په یوه موټر بم چاودنه کې وژل شوی.
د ترکي رسنیو د راپور له مخې، د یاد هېواد پارلمان په ډسمبر میاشت کې پرېکړه وکړه چې سرتېري به یې ۱۸ میاشتې نور هم په افغانستان کې پاتې شي.
ویل کېږي چې د افغان سولې لپاره د امریکا په طرحه کې د ملګرو ملتونو تر نظر لاندې د ځینو اسلامي هېوادونو د حضور وړاندیز هم شوی، چې ترکیه هم پکې شامله ده.
طالب ویاندویانو تر اوسه په افغانستان کې د ترکیې د احتمالي رول په اړه څه نه دي ویلي؛ خو ویل کېږي چې د دې ډلې ځینو استازو ویلي، د ترکیې په پرتله دوحې ته لومړیتوب ورکوي.
ترکي ډیپلوماټانو بېلابېلو غونډو کې له طالبانو سره لیده کاته درلودل او په وروستیو ورځو کې له ترکیې هېواد څخه یو پلاوي له طالب استازو سره په دوحه کې پر استانبول ناستې خبرې اترې درلودې.
عبدالرشید دوستم چې ترکیې ته نږدې کس بلل کېږي، ویل کېږي چې د طالبانو له غبرګون سره مخ شوی.
افغان دولت موده مخکې وړاندیز کړی و چې د افغان سولې خبرو بهیر دې په کور دننه تر سره شي، خو طالبانو هغه مهال دغه بهیر عملي یاد کړ.
افغانستان او ترکیه؛ تاریخي ملګرتیا
افغان ترکیه لرې ګاونډي؛ خو نږدې تاریخي ملګری هېواد بولي. افغانستان دویم هېواد و چې د کمال اتاتورک په مشرۍ یې نوې ترکیه په ۱۹۲۱ کال کې په رسمیت وپېژندله.
په ۱۹۲۸ کال له اروپا د بېرته راتګ پر مهال کمال اتاتورک، امان الله خان او ملکې ثریا په انقره کې یوه اونۍ تېره کړه. په ترکیه کې له هغه د یو ازادي غوښتونکي مشر په توګه یادونه وشوه او هغه ته ښه راغلاست وویل شول.
له هغه وړاندې هم افغان پاچاهانو له عثماني ترکیې سره ښې اړیکې درلودې. د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د جرمني او ترکې هېواد یو پلاوی کابل ته راغی، چې د ځینو روڼ اندو تر څنګ، شاه امان الله خان هم هغوی ته ښه راغلاست وویل، خو افغانستان په دغه جګړه کې خپل بې‌پرېتوب وساته.
د ترکیې هېواد فرهنګي حضور هم په افغانستان کې لیدل کېږي، چې د افغانستان په ځینو ټلوېزیونونو کې یې سریالونه خپرېږي.
د ترکیې د معارف بنسټ تر نظر لاندې د افغان ترک په نوم افغانستان کې ۱۷ ښوونیز مرکزونه شته، چې پنځه سوه زره زده کوونکي پکې پر زد کړو بوخت دي. دغه مرکزونه د ترکیې د ښوونیز نظام په څېر دي.
په وروستیو کلونو کې د ترکیې کالي (لباس) هم د افغانستان په بازارونو کې د ښه کیفیت او قېمت په نوم شهرت لري او د خلکو لېوالتیا ورځې تر بلې ورسره ډېرېږي.
ترکیه یو له هغو هېوادونو دی چې له افغانستان سره د ګټو هېڅ تضاد نه لري، نو له همدې امله د افغان سولې په بهیر کې یې ګډون ته هم خلک هیله‌من دي.
د ملي مصالحې شورا ریس ډاکټر عبدالله عبدالله ویلي، د ترکیې ناسته به د افغانستان لپاره برخلیک ټاکونکې وي.
افغانستان د ترکیې په خارجي سیاست کې
د ملي مصالح عالي شورا مشر عبدالله عبدالله ویلي، ترکیه کې د افغانستان د سولې په تړاو کېدونکې ناسته به د افغانستان لپاره برخلیک ټاکونکې وي.
د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش اوغلو د بهرنیو چارو وزیرانو اسیا زړه هېوادونو غونډه کې چې د تاجکستان په دوشنبه ښار کې جوړه شوې وه، وویل، د سیمې هېوادونو ستونزې د سیمې هېوادونو په همکارۍ له منځه تللی شي او شوې پرېکړې تروریزم له منځه وړلی او سوداګرۍ ته وده ورکولی شي.
د ترکیې بهرنیو چارو زوارت په افغانستان کې د انقرې بهرنۍ سیاست په څلورو ټکو کې تعریف کړی: د هېواد د سیاسي ثبات او یووالي ساتل، د موجودو بنسټونو او جوړښتونو تقویه کول، د خپل امنیتي چاپېریال ملاتړ او او تروریزم په له منځه وړلو سره د سولې بېرته راوړل.
له دې سره د امریکا په جرمن مارشال فنډ وېبپاڼه کې زلمي نشاط او محمد فتیح سیلین تحلیل خپور شوی.
دوی ټینګار کوي چې انقره باید د افغانستان، پاکستان او روسیې درې اړخیزې ناستې له سره جوړې کړي، که څه هم په تېر کې دغو ناستو د پام وړ ګټه نه درلوده.
دواړو لیکوالانو لیکلي، ترکیه باید هڅه وکړي چې تر ممکن حده پاکستان په دغو خبرو کې ښکېل کړي، پاکستان په خپله هم له مذهبي سخت‌دریځۍ او خپلمنځي جنګونو کړېږي او پر دې ستونزو د برلاسي کېدو لپاره دوستانه ملاتړ ته اړتیا لري، نو له ځنډ پرته باید درې اړخیزه ناستې بیا پرانیستل شي.
په دغه پړاو کې د پاکستان ښکېلول یوه ښه پیلامه کېدای شي.
پاکستان په وروستیو کلونو کې ترکیې ته نږدې شوی. ویل کېږي چې د پاکستان لومړی وزیر عمران خان د ارطغرل په نوم ترکي سریال مینه‌وال دی. دغه سریال د عثماني (خلافت) امپراتورۍ د پیل په اړه دی.
د افغان کډوالو کوربه‌توب
په وروستیو کلونو کې اروپا ته د تلونکو کډوالو په ځانګړې توګه د افغان، ایراني او سوریایي کډوالو لپاره ترکیه د پولې په توګه یادېږي. له دغو کډوالو ډېرو یې ترکیه د لنډمهالي یا دایمي اوسېدو لپاره ټاکلې، کډوالو ته په اسانه د اقامې ورکړه د نورو هېوادونو په پرتله غوره کار بلل کېږي.
که ایران او پاکستان یوې خوا ته پرېږدو، په سلو کې ۷۰ سلنه هغه افغان کډوال چې دغو دواړو هېوادونو ته یې پناه نه ده وړې، د ترکیې په ګډون شپږو اروپایي هېوادونو ته تللي.
ترکیه هغه هېواد دی چې په ملګرو ملتونو کې د پنا غوښتنې لپاره وړاندیزونه پکې کېږي او له جرمني (المان) وروسته د افغان کډوالو لپاره دویم لوی او پناورکوونکی هېواد دی. په دغه هېواد کې د پناغوښتونکو شمېر له سلو زرو پورته دی.

## مصالحې شورا: استانبول ناستې ته د سولې طرحې پر جوړولو کار روان دی

د ملي مصالحې عالي شورا وایي، دغه شورا غواړي چې د سولې په اړه وړاندې شوې طرحې وارزوي او د هغو په رڼا کې داسې یوه معقوله طرحه د استانبول ناستې ته وړاندې کړي چې پر بنسټ یې افغانستان له اوسني بحران څخه ووځي او دغه طرحه ټولو اړخونو ته تر یوه حده د منلو وړ وي.
د یادې شورا ویاند فریدون خوځون ویلي چې ملي مصالحې عالي شورا د وړاندې شویو هغو طرحو پر یو ځای کولو بوخته ده چې د بېلو ګوندونو او بنسټونو له لوري مطرح شوې دي. دغه شورا دا څرګندونې په داسې حال کې کوي چې تر اوسه پورې د



ګډ مشارکتي حکومت، فدرالي حکومت، تر وخت مخکې ټاکنو، اسلامي امارت او ورته نورې طرحې وړاندې شوې دي. د ویلو ده چې ټاکل شوې تر راتلونکو دوو اونیو پورې په ترکیه کې د ملګرو ملتونو تر څار لاندې د افغان سولې په تړاو مهم ناسته جوړه شي.
په ورته مهال د دې شورا یو چارواکي تاییدوي چې د استانبول غونډه د روانې اپرېل میاشتې پر ۱٦مه کېږي. د دې شورا د سلاکارانو د بورډ غړي سید ظاهر مطهري ویلي، دغه غونډه د افغانستان د روانې کشالې د حل او د سولې پروسې د چټکتیا لپاره خورا مهمه ده.
مطهري زیاتوي: «د استانبول غونډه د اپرېل میاشتې پر ۱٦مه کېږي. د افغانانو لپاره یوه ډېره مهمه، حیاتي، تاریخي او برخلیک ټاکونکې غونډه ده. داسې غونډه چې د افغانستان حکومت، سیاسي ګوندونه او په دې برخه کې لوی او اغېز لرونکي رهبران په واحدې طرحې او ګډ لیدلوري سره پروسې ته داخلېږي، د روانې شخړې او جګړې د ختمېدو لپاره به قوي حل‌لارې ولټوي.»

# د سولې خبرې؛ افغانستان کوم لور ته روان دی؟

لیکنه:هاشم وحدتيار/ ژباړه: اسد افغان

د مسکو په کنفرانس کې د طالبانو يو مشر ملا فاضل له دوستم سره لفظي شخړه وکړه او هغه ته يې مخامخ «خاين» او «قاتل» وويل.

روسيه د هغې دوه ورځنۍ سر مشريزې ناستې کوربنه وه چې پکې د افغان لوريو (حکومت او طالبانو) تر څنګ چين، پاکستان او د امريکا متحده ايالاتو هم ګډون وکړ. دې ته ورته بل نړيوال کنفرانس به راتلونکې مياشت په انقره کې جوړ شي، څو د افغانستان لانجې ته سياسي حللاره پيدا کړي.

سره له دې چې بين الافغاني مذاکرات دوام لري، خو افغانان د ځان او د هېواد د راتلونکي په اړه اندېښمن دي. ځکه نه پوهېږي چې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ خبرې به څه پايلې ولري. په دې لړ کې د ځواکمنو کسانو او جنګي قوماندانانو تر منځ چې کلونه يې له يو بل سره جګړې کړې، د غچ اخيستلو وېره هم لري. افغانان اندېښنه لري چې ايا دوی به سره پخلا شي که بله کورنۍ جګړه به پيل شي؟

د سولې خبرې به له لاندې دريو نتيجو څخه يوه حتمن ولري:

لومړی: د مذاکراتو پايله به ناقص جوړجاړی رامنځته کړي

د سولې خبرو کې به د يو ټول شموله اسلامي حکومت پرېکړه وشي. طالبان د اسلامي نظام يادونه کوي. هدف يې د داسې ټول شموله حکومت جوړول دي چې دوی به پکې ډېره برخه او واک ولري. په دې ډول حکومت کې تر ورګډېدو وړاندې به طالبان ځينې سياستوال او د افغان حکومت مسوولين چاڼ کړي. وروسته له دې چې امريکايان له افغانستان څخه لاړ شي، طالبان به په ناڅاپي توګه په اساسي قانون کې بدلونونه راوړي، چې ممکن د ځينو برخه‌والو او سياسي ګوندونو لپاره به د منلو نه وي. په بدلونونو کې به د داسې سختو اسلامي احکامو عملي کول هم شامل وي، چې پکې د مېرمنو او بيان پر ازادۍ محدوديتونه وضع کوي. هغه کار چې د طالبانو تر واک لاندې سيمو کې همدا اوس روان دی.

په دې ډول به په هېواد کې سياسي او ټولنيزه ګډوډي پيل شي، چې د پياوړو امنيتي ځواکونو په نشتون کې به په پراخه کچه د اړودوړ لامل شي، چې د طالبانو لخوا سخت دريځه نظام، په ملي او نړيواله کچه د ښځو د حقونو او بيان د ازادۍ د مدافع ټولنو او نړيوالو ادارو لخوا به نيوکې پرې وشي.

په داسې حال کې چې د نړيوالې ټولنې مرستې تر ډېره د بشر د حقونو په رعايت پورې تړلې دي، افغانستان ته د دوی مرستې به ختمې شي. د نړيوالو مرستو په نشتون کې طالبان نشي کولای چې د خپلو پوځي مصرفونو بار ته چې اوس ۳.۷۵ ميلیارده ډالره دی، اوږه ورکړي. نو که په راتلونکي کې د دوی د حکومت پر وړاندې مقاومت کېږي، د ځپلو توان به يې نه لري او همدارنګه طالبان به خپلو مخکنيو دښمنانو ته چې دوی ورسره په کلونو جګړه کړې، نوي لقبونه ونه مني. د بېلګې په توګه، احمدشاه مسعود به ورته د «ملي اتل» او عبدالرشيد دوستم د «مارشال» په توګه. دا ډول کړنې به مخالفتونه ډېر او د افغانستان له ګوټ ګوټ جګړې را وپاروي.

دويم: د سولې خبرې به ناکامه شي

خبرې به هغه مهال له بُن‌بست سره مخ شي چې ښکيل لوري پکې پر خپل دريځ ټينګار وکړي او نرمښت ونه ښيي. د خبرو پر ميز د امتياز اخيستو لپاره تاوتريخوالی به زيات شي او يا به هم د مذاکراتو اساس يوازې شريعت او سخت دريځي وګڼل شي. طالبان به هڅه وکړي چې په ټول هېواد کې له افغان امنيتي ځواکونو سره جګړو ته دوام ورکړي او له دې لاري واک تر لاسه کړي. يو لوړپوړي طالب چارواکي له سي بي ايس ټلوېزيون سره په خبرو کې د خپلو انتخابونو په اړه ويلي: دا مهال امريکا او افغان حکومت دويم پلان نه لري، يوازې طالبان دي چې لومړی او هم دويم پلان لري. لومړي پلان کې سوله ييز سياسي جوړجاړی او په دويم کې د ټوپک په زور واک ته رسېدل دي.

په دې حالت کې به د طالبانو او امريکا ترمنځ د سولې لاسليک شوی تړون مات شي او طالبان به بېرته پر امريکايي سرتېرو خپلې حملې پيل کړي. بلخوا داسې هم ويل کېږي چې د خبرو د ناکامۍ په صورت کې شمالي ټلواله له طالبانو سره د جګړې په اړه فکرونه کوي. طلوع په دې اړه د افغان دولت له لومړي مرستيال امرالله صالح څخه پوښتنه وکړه، چې په شمال کې له طالبانو سره د جنګ په موخه وسلې وېشل شوي. البته چې صالح دا خبرې ونه منله. دا چې واشنګټن له کابل سره د امنيتي همکاريو تړون لري او پر اساس يې د ملي امنيتي ځواکونو د ملاتړ او تقويه کولو لپاره هم کار کوي او ۸۰۰۰ د ناټو پوځيان به افغانستان کې وي، نو د دې امکان نشته چې طالبان دې کابل ونيسي.

په هر حال، طالبان به خپلو برياوو او لوړ جنګي مورال ته په کتو تاوتريخوالی زيات کړي او ناټو به ونه توانېږي چې د جنګ په ميدان کې پر دوی برلاسي شي؛ ځکه طالبان اوس د پخوا په نسبت ځواکمن دي. د دې تر څنګ، طالبانو اوس په نړيواله کچه هويت موندلی او په ازادانه ډول له سيمه ييزو ځواکونو لکه روسيې، چين او ايران سره اړيکې پالي.

درېيم: د سولې خبرې بريالۍ کېږي

طالبان او افغان حکومت به وکولای شي چې د خپلو خبرو اترو په پايله کې يوې داسې پايلې ته ورسېږي، چې د ټولو اړخونو لپاره د منلو وړ وي او داسې حکومت به جوړ کړي چې ټولې سياسي ډلې يې ومني، خو د دې لپاره بايد دواړه لوري انعطاف او قرباني ورکړي. د بېلګې په توګه، طالبان بايد دا ومني چې د برلاسۍ پر ځای واک په مساويانه ډول وويشي. همدارنګه د سخت دريځۍ د تطبيق له غوښتنې تېر شي، په دې ډول به د دواړو لوريو غوښتنې تر يوې اندازې منل شوې وي. په دې لړ کې به اوربند هم اعلان شي او د امنيتي ځواکونو پياوړتيا او د ځواکمن حکومت جوړښت ته به لاره هواره شي.

د سولې لپاره جوړ شوی حکومت به له نړيوالې ټولنې سره د خپلو اړيکو او امريکا او ناټو د مرستو په اړه پرېکړه وکړي. په دې حالت کې افغان حکومت او طالبان نشي کولای چې په ټول هېواد کې سوله پلې کړي. ځکه چې د طالبانو د ټيټې کچې قوماندانان او جنګيالي تر هغه وخته پورې هېڅ معامله نه مني، څو چې پر هېواد بشپړ واک طالبانو ته ورنه کړل شي او شريعت پلې شوی نه وي. همدا مخالفين به تر يو بل نوم او بيرغ لاندې را ښکاره شي او د ځينو ګاونډيو استخباراتي ادارو تر سرپرستۍ لاندې به جنګ ته دوام ورکړي.

تېره اونۍ له (وايس نيوز) سره په مرکه کې يو طالب قوماندان د امريکا نوي حکومت ته خبرداری ورکړ: «موږ په بشپړ ډول جګړې ته چمتو يو، موږ له خپل جهاد څخه ستړي نه يو، په زخمي کېدو نه خپه کېږو او په شهادت مو زړه نه دردېږي. که موږ شهيدان شو، بريالي به يو، زموږ ستړيا برياليتوب دی، موږ ځکه کامیابه يو چې جګړه کوو، کابل ته بريالي ننوځو، همدا زموږ لاره ده.»

بلخوا داعش هم شته، ځينې ډلې ممکن ورسره ملګرې شي. دا هم امکان لري چې د ياغيانو نوې ډلې جوړې شي.

درېيم احتمال تر ټولو غوره دی؛ ځکه چې تاوتريخوالی به ورسره تر ډېره راکم شي. مرکزي حکومت به ډېر پياوړی شي. داعش او نورې ممکنې پيداکېدونکې ډلې به دومره ځواکمنې نه وي، چې د طالبانو او حکومت شريک نظام ونګوي. په دې حال کې به نړيوال له افغانستان سره مرستو ته دوام ورکړي. نوی حکومت به خپل امنيتي بنسټونه نور هم پياوړي کړي او په تدريجي ډول به هېواد په امنيتي او اقتصادي لحاظ خوندي او پر ځان بسيا کړي، چې دا کار به افغانستان د تلپاتې سولې خاوند کړي.

# د ترکيې د کنفرانس په درشل کې؛

## طالبان او حکومت د يو بل پر وړاندې د جګړو د شدت خبرداري ورکوي



د افغان امنيتي ادارو د مشرانو تر خبري کنفرانس يوه ورځ وروسته طالبانو خپلو وسله والو ته سپارښتنه کړې، چې د جګړو د شدت په صورت کې د بريدونو صلاحيت لري. طالبانو په يوه خپره کړې اعلاميه کې د جګړو د شدت پړه پر افغان حکومت اچولې او وايي چې حکومتي ځواکونو د دوی تر نفوذ لاندې سيمو کې هوايي او ځمکني عمليات شديد کړي، چې دا د سولې له هوکړې ښکاره سرغړونه ده او په وينا يې، که وضعيت دوام وکړي، نو دوی به غبرګون وښيي. تر دې وړاندې بيا افغان چارواکو ويلي وو چې طالبان لا هم د جګړو له لارې واک ته رسېدل غواړي او تګلاره يې نه ده بدله کړې.

سره له دې چې په راتلونکو اونيو کې په ترکيه کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو د پيلېدو په تړاو راپورونه خپرېږي، خو دلته افغان امنيتي او دفاعي اداري او طالبان يو بل ته ګوتڅنډنه کوي او يو بل د جګړو او عملياتو په شدت ګواښي. ورمه ورځ د ولسمشر غني د ملي امنيت سلاکار او د افغان امنيتي او دفاعي ادارو مشرانو په يوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وويل چې دوی به طالبانو ته اجازه ور نه کړي، څو د جګړو له لارې بريا ته ورسېږي. د حمدالله محب په خبره، طالبان هڅه کوي چې د جګړو له لارې واک خپل کړي او په وينا يې، دغه ډله لا هم د سولې ملاتړې نه ده او د جګړې تګلاره يې نه ده بدله کړې. نوموړي زياته کړه چې يوازې د ټاکنو له لارې به واک راتلونکي ولسمشر ته وسپارل شي.

بلخوا د امنيتي او دفاعي ادارو مشرانو هم وويل چې دوی د طالبانو هر ډول بريد ته ځواب وايي او په خبره يې، د دغه ډلې پر ضد به يې عمليات دوام کوي. د کورنيو چارو سرپرست وزير حيات الله حيات بيا د خپلو خبرو په دوام دا هم وويل چې طالبان په لويو ښارونو کې د بريدونو پلان لري او په خبره يې، دغه ډله هڅه کوي جګړې شديدې کړي. حيات زياته کړه چې افغان ځواکونه بيا د هر ډول احتمالي خطر پر وړاندې مبارزې ته تيار دي.

طالبانو بيا پرون ادعا کړې، چې افغان حکومت د دوی پر وړاندې چاښيز، ځمکني او هوايي عمليات پيل کړي دي. د طالبانو له لوري په يوه خپره شوې اعلاميه کې راغلي چې افغان حکومت او له دوی سره مل بهرني ځواکونه د هېواد په ګوټ ګوټ کې په هغو سيمو کې عمليات کوي، چې د طالبانو تر نفوذ لاندې دي او په خبره يې، دا کار د سولې له هوکړې ښکاره سرغړونه دی. وسله وال طالبان وايي چې د افغان حکومت په هوايي او ځمکنيو عملياتو کې په ګڼو ولايتونو کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې او په خبره يې، که وضعيت همداسې دوام وکړي، نو ښايي دوی به هم خپلې جګړې شديدې کړي.

د وسله والو طالبانو په اعلاميه کې راغلي، چې په خوست، ننګرهار، بدخشان او هلمند ولايتونو کې د بهرنيو ځواکونو هوايي بريدونه د دوحې له هوکړې ښکاره سرغړونه ده. سرچينې دغه راز پر خپلو وسله والو غږ کړی، چې که عمليات و نه درول شي، نو د خپل ځان د دفاع لپاره هر ډول چې مناسبه بولي، اقدام وکړي. په اعلاميه کې راځي: «که دغه ډول عمليات متوقف نه شي، نو وسله والو ته سپارښتنه کېږي، هر ډول چې مناسب بولي، د ځان او خلکو د دفاع لپاره اقدام وکړي».

افغان حکومت او طالبان داسې مهال يو بل ته د جګړو د شدت او د يو بل پر ضد د اقداماتو د ترسره کېدو خبره کوي چې په استانبول کې د راتلونکي کنفرانس لپاره تياری روان دی. بلخوا په هېواد کې د ننه جګړې شديدې شوي چې د افغانانو ژوند يې تريخ کړی دی، خو د دې ټولو تر څنګ د افغانانو ستره هيله دا ده چې ښکېلې خواوې به د ترکيې په کنفرانس کې يوې پايلې ته ورسېږي او په دې توګه به دلته روانه خونړۍ جګړه پای ومومي.

# راپورونه: په اندونيزيا کې د سېلابونو او ځمکې ښويېدنې له کبله ۴۴ کسان مړه شوي

په اندونيزيا کې د ژغورنې د چارو مسوولين وايي، چې په ياد هېواد کې په سېلابونو او د ځمکې ښويېدنې په پېښو کې لږ تر لږه ۴۴ تنه مړه شوي دي. دا سېلابونه د اندونيزيا په ختيځه برخه کې راغلي دي.

د دغه هېواد د بېړنيو چارو د ملي ادارې وياند راديتيا جيتي ويلي، چې په دې پېښو کې نهه تنه ژوبل شوي هم دي. وياند ويلي، ښايي د وژل شويو او ژوبلو شويو کسانو شمېر تر دې هم لوړ شي؛ ځکه چې اکثريت ځپل شوې سيمې لا هم تر اوبو او خټو لاندې دي.

دغو سېلابونو او ځمکې ښويېدونو د اندونيزيا د فلوريس ټاپو ډېر ځپلی، چې اکثريت اوسېدونکي يې عيسويان دي. چارواکي ويلي، چې د خلکو د اوسېدو کورونه تر خټو لاندې دي او ګڼ شمېر پلونه او سړکونه ويجاړ شوي دي.

د دوی په خبره، د اوبو د قوي څپو او دوامدارو بارانونو له وجې د ژغورنې عمله پر دې نه ده توانېدلې چې د ايسټ فلوريس لېرې پرتې سيمې ته ځانونه ورسوي.

په همدې حال کې د اندونيزيا د بيما ولايت په يو شمېر ولسواليو کې د برېښنا کوټونو د بندونو له مورګو نه اوبه اوښتي او لږ تر لږه ۱۰ زره کورونه يې لاندې کړي دي. چارواکي وايي، د همدې ګډوډيو له کبله خلکو تقريباً نهه ساعته برېښنا نه درلوده. د يادونې ده چې اوس په اندونيزيا کې د موسمي بارانونو وخت دی او اکثريت په همدې وخت کې سېلابونه او ځمکې ښويېدنې کېږي.

د همدې روان ۲۰۲۱ز کال د جنوري په مياشت کې هم د لوېديځې جاوا په ولايت کې د باران له ورېدو نه وروسته سېلابونو لږ تر لږه ۴۰ تنه وژلي وو. په اندونيزيا کې د چاپېريال ساتنې فعالين وايي، چې د هېواد په يو شمېر سيمو کې خلکو ځنګلونه وهلي او همدا کار د ځمکې د ښويېدنې سبب کېږي.


د دغه هېواد د بېړنيو چارو ملي اداره وايي، چې د هېواد د شاوخوا ۱۲۵ ميليونو وګړو څخه تقريباً نيمايي يې په داسې سيمو کې ژوند کوي، چې د ځمکې د ښويېدنې خطر پکې شته دی.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




امریکایان هر وخت په احساساتو راځي. په ۲۰۰۱ کال کې د پارلمان له برید وروسته له دوی سره دا تشویش و چې څه به کېږي، ځکه چې واجپای ویلي و، چې له پاکستان سره مې د سولې لپاره ډېره هڅه وکړه او د کارګېل له جګړې سره، سره مې هغه ځوک سولې ته را وباله چې د کودتا له لارې یې ځان ولسمشـر کړی و (مشـرف). دی په ډېرو ستونزمنو حالاتو کې و.

د پاراکرم عملیاتو هېڅ ګټه نه لرله. یوازې د پیسو ضایع کول و او ددې لامل شو، چې زموږ پوځیان د اوړي په سخته ګرمۍ کې ستونزې وګالي. په جېسلمیر کې ګرمي تر ۴۷ درجو رسېږي. واجپای تا پر پوله څه کول؟ زما په فکر واجپای بله لار نه درلوده.

څه چې موږ هیله‌من کولو، هغه دا فکر و چې پاکستان په همدې حال نه پاتې کېږي. یوه ورځ به ټوټه ټوټه شي. دا هغه وخت و چې مشـرف قدرت ترلاسه کړ، ځینو مسئولو کسانو ویل چې موږ د پاکستان مینه وال یوو، خو پاکستان به ټوټه، ټوټه شي. ما ورته وویل چې زه خو داسې نښې نه وینم چې ګواکې پاکستان دې سره بېل شي. نړۍ به پرېنږدي چې پاکستان سره بېل شي. امریکا به هېڅکله هم پاکستان ټوټه، ټوټه کېدو ته پرېنږدي.

دورانی: جګړه بې ثباتي، بحرانونه او بدې پایلې له ځان سره لري.

دولت: هو بدې پایلې لري.

دورانی: ځوک ښایي ووایي چې دوه درې ورځې ښه کافي وخت دی، ډزې بندې کړئ، کور ته لاړ شئ او خپل ساعت تېر کړئ. ډیلي، راولپنډي، اسلاماباد، واشنګټن، بیجینګ او نور ټول به ووایي چې مخکې له دې چې یو څو لېونیان راشي او د خطرناکو وسلو پر بټنو ګوتې ټینګې کړي، جګړه ودروئ. وروسته به کار تر کاره تېر وي او هېڅ به په لاس نه درځي. خو وروسته به زموږ ټولې ستراتېژۍ او برداشتونه دا وایي، چې موږ په حقه یوو. پاکستانیان ځانوژونکي نه دي. که لومړی زموږ له لوري هستوي برید وشي، ډېر کلک غبرګون به ووینو. په حقیقت کې، له دواړو خواوو سره دا وېره ده، چې که موږ لومړی هستوي برید وکړو مقابل لوری به زموږ کوم ځانګړی ځای په نښه کړي، نو د دوی دا وېره ددې لامل شوې ده، چې یوه خوا هم هستوي برید ونه کړي.

سېنها: ځینو فیلسوفانو ویلي دي، چې جګړه د انسان په طبیعت کې ده.

دورانی: د سولې تر کولو او ساتلو لږ تر لږه د جګړې پیلول اسانه کار دی ـ هر خونکار احمق دا کار کولی شي. داسې خلک هم شته، چې په جګړه کې یې ګټې خوندي دي؛ موږ د متحدو ایالتونو او نورو جګړه غوښتونکو هېوادونو د پوځی صنعت په اړه هم ډېر څه اورېدلي دي. دوی مو هر وخت په ځنګ وهي چې مخالفین مو یوازې د ټوپک پر ژبه پوهېږي. زه فکر کوم چې نېشنلېزم او ملي ګټې هم د لویو لویو وسله‌والو جګړو لامل کېږي. ښایي له همدې کبله به اقبال نېشنلېزم نوی خدای بللی وي.

دولت: هو، له نېشنلېزم څخه لویه ستونزه جوړېدای شي.

دورانی: منم. تر هغو چې د خپلې سیمې ګټې درته مهمې نه وي، تر هغو د هېواد ګټې نه شي درته مهمې کېدای. لکه همدا جمله: «ما ته دا نه ده مهمه چې په نور پاکستان کې څه کېږي، خو په فیصل‌اباد کې باید دا کار وشي.» چې ووایي تر هر څه مخکې لومړی پاکستان او یا ووایي، چې موږ باید افغان پوله د خپلو ملي ګټو لپاره وتړو، دا حماقت دی.

خو اوس زموږ ډېری هېوادوال پر دې باور دي، چې له خپلو ګاونډیو سره د دوی په جګړو کې هېڅ مرسته نشو کولی، دوی باید خپلې جګړې په خپله وکړي او موږ باید یوازې د پاکستان په اړه سوچ وکړو. خو خبره دا ده چې که څه هم ګاونډیان مو خپله جګړه کوي، خو جګړې یې د پاکستان په اړه دي!

دولت: په ۲۰۱۱ کال کې د (( امن کی اشا)) ( د امن هیله) غړو په کراچۍ کې غونډه درلوده، زه هم هلته تللی وم، تر ټولو په زړه پورې شی زما لپاره دا و چې په پاکستان کې د فرانسې او جرمني سفیرانو هم خبرې وکړې. لومړی فرانسوي د جګړې د اغېزو په اړه او په دې، چې اروپایان له جګړو وروسته بېرته څنګه سره راټول شول خبرې وکړې. جرمنی ډېری هوښیار و. په ډېر فصاحت یې وویل چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته جرمنیانو دا پرېکړه وکړه، چې نور جګړه غوره انتخاب نه دی. ځکه چې جرمنیان له جګړو ډېر کړېدلي وو او بیا به هېڅکله هم جګړه ونه کړي.

په ۲۰۰۹ کال کې یو ناڅاپه ډېری سفیران د افغانستان په چارو کې کارپوهان شول. د ناټو له خوا یوه ډله کارپوهان ډیلي ته راغلل، په کلاریجیس هوټل کې یې له سولې او خبرو اترو پرته پر بل شي خبرې ونه کړې. نو ما ورته وویل چې تاسو خو د ناټو په استازیتوب راغلي یاست، ناټو ته څه ورپېښه شوې چې د سولې په اړه خبرې کوي؟

نړۍ د بدلېدو په حال کې ده. لس کاله مخکې هنري کیسینجر ډیلي ته راغلی و او ویې ویل چې که ایران ځان سم نه کړي، د نړۍ له نقشې به ورک شي. خو ایران تر اوسه لا شته، همداسې ایران ته ورته نور هېوادونه هم شته.

**دوام لري...**

# فراري

حشمت الله نوري



فراري د موټر جوړولو په برخه کې ایټالیایی کمپنی ده. دې کمپنۍ په ۱۹۲۹ کال کې خپل فعالیتونه پیل کړي دي. هغه وخت یې بنسټګر انزو فراري و او د خپلې کمپنۍ نوم یې هم اسکودریا فراري کېښود. دغه شرکت د خپل کار په لومړیو کلونو کې د چلوونکو مالي ملاتړ او همدا راز د موټرونو د سیالۍ تر ټولو ستر تجارتي شرکت و. په ۱۹۴۷ کال کې یې د سیالیو موټرونه تولید کړل او د دغو موټرونو تولید ته یې تر فراري برنډ لاندې ادامه ورکړه. دمګړۍ دغه کمپنۍ د سوپر اسپورټ موټرونو د تولید او طراحۍ په برخه کې تر ټولو ډېر فعالیت کوي.

په ۱۹۶۹ کال کې فیات کمپنۍ پرېکړه وکړه چې د فراري ۵۰ سلنه سهام واخلي او وروسته یې همداسې وکړل. په ۲۰۰۸ کال کې یې د اخیستو سهامو برخه ۸۵ سلنې ته لوړه شوه. دمګړۍ فیات کمپنۍ د ۹۰ سلنه سهامو په درلودلو، د دغې کمپنۍ اصلي مالکه ده. پیرو فراري د انزو زوی هم لس سلنه سهام په فراري کمپنۍ کې لري.

د ۱۸۹۸ کال د فبرورۍ په ۱۸مه انزو آنسلمو فراري د ایټالیا په مودنا ښار کې وزیږېد او کورنۍ یې صنعتګره وه. انزو په ځوانۍ کې له درس او زده کړو سره دومره مینه نه لرله، خو د موټر ځغلونې سیالیو ډېر خوند ورکاوه او په دې کار مین و. هغه په لومړۍ نړیواله جګړه کې عسکري پیل کړه. وروسته د همدې جګړې په اوږدو کې چې کله د انفلونزیا ناروغي ګډه شوه، نو په ۱۹۱٦ کال کې دی هم سخت ناروغ شو او له عسکرۍ یې و ایست او کور ته راستون شو. په همدې کال کې یې پلار هم د همدې ناروغۍ له امله ومړ.

د جګړې له امله رامنځ ته شوی بحران د دې لامل شو څو د دوی کورنی کاروبار هم له سقوط سره مخ او مات شي. انزو پرېکړه وکړه چې په خپله په کار پسې ووځي. په فیات کمپنۍ کې نوموړي ته چا کار ور نه کړ، نو په سي ام ان وړه کمپنۍ کې یې کار پیل کړ، هغه هم د موټرونو د سیالیو او دې ته ورته مسایلو په برخه کې فعالیت کاوه.

ځوان فراري په ۱۹۱۹ کال کې د سي ام ان د چلوونکو په ډله کې د موټرونو سیالیو ته راووت. هغه د پام وړ بریا هم تر لاسه نه کړه، خو بیا یې هم شاتګ ونه کړ. هغه په ۱۹۲۰ کال کې سي ام ان کمپنۍ د دې لپاره پرېښوده څو په آلفا رومیو کمپنۍ کې کار وکړي. هغه په همدې کال په لوبو کې برخه واخیسته او د الفا رومیو یو ټیم تر څنګ یې وکړای شوی چې د پام وړ بریا خپله کړي. فراري تر څو بریاوو وروسته، پر دې بریالی شو چې یو ښه ټیم جوړ کړي. ځکه هغه په دې باوري و چې د یوه ټیم د اداره کولو او مدیریت وړتیا لري. نو د همدې لپاره یې د فراري په نامه د موټر ځغلونې ټیم جوړ کړ چې په هغه کې یې تکړه چلوونکي او سیالان راټول کړي وو. هغه پخپله له لوبو لاس واخیست، خو دغه ټیم یې پیاوړی کاوه. د فراري ټیم د الفا رومیو په مرسته پر دې بریالی شو چې د پام وړ بریاوې تر لاسه کړي، چې د دې ټولو بریاوو تر شا د فراري لاس و، ځکه نوموړي دغه ټیم په ښه بڼه مدیریت کاوه او وخت پر وخت یې په نوو تخنیکونو سمبالاوه.

انزو فراري په ۱۹۳۸ کال کې رسماً د الفا رومیو د موټر ځغلونې د برخې مشر وټاکل شو، خو بخت ورسره یاري ونه کړه او د دویمې نړیوالې جګړې له پیل سره سم د موسولوني حکومت پرېکړه وکړه، چې د الفا رومیو شرکت اموال حکومت ته مصادره کړي.

دغې مصادرې پر فراري ګروپ کوم اغېز ونه کړ. دوی لا هم سیالۍ کولې. له الفا سره د قرارداد له مخې، فراري تر څلورو کلونو په مستقله توګه د سیالیو اجازه نه لرله، خو دوی اړ شول چې خپل نوم بدل کړي او په ځینو نورو کارونو پیل وکړي. په لومړي سر کې یې د الوتکو د ځینو پورزو په تولید لاس پورې کړ. موټرونه یې هم جوړ کړل او په دې اوږدو کې یې ټیپو ۸۱۵ بازار ته وړاندې کړ. په دې سبب چې د الفا کمپنۍ له لوري پر دوی محدودیت و، نو په سیالیو کې هم دومره ونه ځلېد او دوی هم ونه غوښتل چې دغه موټر دومره مطرح کړي؛ ځکه د موسولونو د حکومت له لوري ورته د خنډونو جوړېدلو امکان و. په ۱۹۴۳ کال کې د فراري وړه فابریکه مارانلو ښار ته ولېږدول شوه، خو د جګړو په اوږدو کې بمبار شوه او هر څه له خاورو سره خاورې شول. دوی بیا هم پر خپلو وعدو ټینګ ولاړ وو، کار ته یې ادامه ورکړه او په ۱۹۴۴ کال کې یې بېرته له سره جوړه کړه. د دوی د فابریکې جوړولو یو څه وخت ونیو، تر دې چې په ۱۹۴٦ کال کې یې ایله خپل کارونه رسماً پیل کړل. په همدې کال کې فراري کمپنۍ پرېکړه وکړه چې غیر سپورټي یا غیر مسابقه‌یي موټرونه تولید کړي، ځکه دوی په دې توګه اړ وو چې د کمپنۍ مالي لګښت پوره کړي چې هغه په مسابقه‌یي موټرونو نه پوره کېده. ځکه دغه موټرونه کم تولیدېدل او محدودو کسانو اخیستل. دوی په ۱۹۴۵ کال کې خپل لومړنی غیر مسابقه‌یي موټر تولید کړ. دغه موټر ډېر قوي او ښکلی ډیزاین درلود. همدغه موټر دوې اونۍ وروسته د رم په نامه ستره جایزه وګټله. په دې توګه نو د فراري موټرونه د ښکلا او پیاوړتیا پر سمبول بدل شول.

وروسته له دې نو پر فراري کمپنۍ د پیسو لار را ماته شوه، دوی هم خپله کمپنۍ پراخه کړه. د غیر مسابقه‌یي موټرونو تر څنګ یې د مسابقه‌یي موټرونو تولید ته هم کش ورکړ.

کله چې په ۱۹۵٦ کال کې د انزو فراري زوی الفرد فراري د ۲۴ کالو په عمر ومړ، نو پر انزو یې ډېر منفي اغېز وکړ، هغه ګوښه ناستی شو، هغه به تل ژړل او د عمر تر پایه یې د خپل زوی په غم کې توري عینکې په سترګو کولې، څو یې څوک نمجنې سترګې ونهویني. خو یو څه په هغه کې لا هم ژوندي وو، هغه له موټر ځغلونې او موټر جوړونې سره د ده لېونۍ مینه وه. نوموړي د ژوند تر وروستۍ شېبې هم خپل ټیم اداره کاوه او هم یې دوی ته لارښوونې کولې. نوموړی اړ شو چې په ۱۹٦۵ کال کې د مالي ستونزو له امله د فراري یوه اندازه سهام په فیات کمپنۍ وپلوري. په همدې لړ کې د فیات شرکت سهام په ۱۹٦۹ کال کې ۵۰ سلنې ته لوړ شول. خو بالاخره فیات په ۲۰۰۸ کال کې د فراري ټول شریکان له پیرو فراري پرته واخیستل او د خپلو سهامو برخه یې ۸۵ سلنې ته لوړه کړه. دمګړۍ د ۹۰ سلنه سهامو په درلودو د دې کمپنۍ مالک فیات کمپنۍ ده.

د فراري کمپنۍ ډېری موټرونه اوس په سره رنګ کې تولیدېږي. د دې رنګ سابقه هغه وخت ته ورګرځي چې کله د ایټالیا حکومت اعلان وکړ چې یوازې هغه موټرونه په سیالیو کې ګډون کولی شي، چې سور رنګ ولري. انزو له دې امله ډېر ستایل شوی چې خپل هېواد ته یې خدمت کړی دی. د ایټالیا حکومت عالي مډالونه او نښانونه ورکړي دي او څو افتخاري لقبونه هم نوموړي په خپل نوم کړي.

نن فراري کمپنۍ د مسابقه‌یي موټرونو تر څنګ، پر یوه ستر سوداګریز شرکت بدله شوې ده. دوی اوس په بېلو برخو کې تولیدات لري، عطر، کمپیوټر، عینکې، کالي، بایسکلونه، موبایلونه او دې ته ورته نور شیان هم تولیدوي. زرګونه کسان اوس هم له دې کمپنۍ سره کار کوي او موټرونه یې په ځانګړې توګه په نړۍ کې ځانګړی ځای او مقام لري.

د دغه شرکت لوګو ښکلې ډیزاین شوې ده، تور اېس چې په مخکې یې زغره اېښې. په دغه لوګو کې د اېف توری هم لیکل شوی دی چې د فراري په مانا دی. کله چې په ۱۹۲۳ کال کې فراري موټر په ساویوو ښار کې لومړی مقام وګاټه، انزو د یوه پیلوټ له مور سره اشنا شو، هغه د فرانسچګو بارکا مور وه، بارکا د ایټالیا د پوځ مشهور جنګي پیلوټ و، چې په لومړۍ نړیواله جګړه کې ومړ. انزو چې له هغه سره ولید، د بارکا مور له نوموړي وغوښتل چې د بارکا په څېر چې په خپلو ټولو الوتکو به یې اسونه رسمول، دی هم په خپلو ټولو موټرونو باندې تور اس رسم کړي، ځکه د نوموړې په وینا، ښایي دا کار ورته نیکمرغي راوړي. انزو همداسې وکړل او نن د فراري په لوګو یا نښان کې تور اېس چې مخکې یې زغره ده، لیدلی شی.

فراري کمپنۍ اوس هم د نړۍ په کچه پېژندل شوی نوم دی. دغه برنډ په نړۍ کې مسابقه‌یي او نور سوداګریز موټرونه تولیدوي. نن هم د دې کمپنۍ موټرونه په نړۍ کې لوړ قیمت لري او ډېر خلک یې د اخیستلو وړتیا نه لري، ځکه تر ډېره یې موټرونه د مسابقو لپاره کارول کېږي. دغه کمپنۍ زرګونه کارکوونکي لري، د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې فعالې څانګې لري او مرکزي دفتر یې اوس هم په امستردام کې دی. په نورو برخو کې هم تولیدات لري، خو تر ټولو ډېر تولیدات او نوم یې د موټرونو د تولید په برخه کې ګټلی دی.

همیانۍ

# له قانون سرغړونه او پایلې یې

ژباړه: حمیدالله حمیدي

هرو مرو داسې کسان پېژنې چې ځینې وخت په ښکاره او ځینې وخت په پټه له قوانینو سرغړونه کوي او داسې څوک نشته چې مخنیوی یې وکړي. ایا ستاسو په اند دا ښه خلک دي؟ ایا خوښېږي مو چې یو څوک تاسو ته د قانون ماتوونکي صفت وکاروي؟ مخکې له دې چې د دې منفي صفت په اړه بحث وکړو، باید دې پوښتنې ته ځواب ورکړو چې قانون څه شی دی او ولې قوانین جوړ شوي دي؟

ایا دي ته مو پام کړی دی هغه ټولنې چې قانون پکې عملي کېږي، د ستونزو او جنجالونو کچه پکې تر وروستۍ کچې ټیټه شوې ده؟ که څه هم له قانون څخه سرغړونه خپله جزا لري؛ خو ډېر کله داسې پېښ شوي چې موږ قوانین تر پښو لاندې کړي وي او پولیس له موضوع څخه خبر شوي، د محکمې د حکم پر اساس موږ مجرم پېژندل شوي او زندان ته وړل شوي یو؟

اصلي خبره دا ده چې ټول د یو ډول ورته سلیم عقل او یا هم عامه پوهاوي چې د یوې موضوع پر عواقبو فکر وکړي، درلودونکي او د باور وړ نه دي. نو د همدې دلیل له مخې هېوادونه او سازمانونه د بېلابېلو قوانینو طرحو او طرزالعملونو ته اړتیا لري او دغه قوانین تسوید، تصویب او توشیح کوي.

**قانون څه شی دی؟**

قانون په یوناني ژبه کې له کانون څخه چې د قاعدې او ترتیب له مانا اخیستل شوی، اصلي منظور ترې کلي قواعد دي. هغه قواعد او مقررات دي چې په یوه ټولنه کې د انسانانو تر منځ اړیکې تنظیموي او د ذیصلاح ارګان لخوا وضع کېږي او الزامي جنبه ولري.

په اصل کې لغتونه په انساني علومو کې مشخص یا یو تعریف نه لري، نو له همدې کبله اړوند پوهانو بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي دي. د بېلګې په توګه، (د انسانیت پر وړاندې جرمونه) Crimes Against Humanity کتاب مؤلف رابرتسن Robertson قانون داسې تعریف کړی دی: قانون معمولاً د احکامو د سیستم په توګه پېژندل کېږي، چې د ټولنیزو یا دولتي موسسو له لارې جوړ او الزامېږي، څو یې له مخې کړنې او فعالیتونه تنظیم شي. کولای شو داسې یې هم تعریف کړو چې د قوي حکم پر بنسټ او د ټولنې لخوا جوړ قوانین او مقررات چې د ټولنې د خلکو لخوا منل شوي وي او ځان یې پر عملي کولو باندې ملزم او مجبور وګڼي.
په اصطلاح کې له قانون څخه هدف دا دی چې قانون عبارت دی له هغو الزامي احکامو او مقرراتو څخه چې د واک لرونکي او قانون جوړونکي بنسټ لخوا وضعه او د عملي کولو لپاره وړاندې کېږي.
د افغانستان د اساسي قانون د ۹۴ یمې مادې له مخې، قانون داسې تعریف شوی دی: قانون د ملي شورا دواړو مجلسونو له مصوبې څخه عبارت دی چې د ولسمشر لخوا توشیح شوی وي.

له بده مرغه ځینې کسان شرایط د ځان په ګټه کاروي، نو همدا لامل دی چې د قوانینو او قواعدو جوړول لازمي بلل کېږي. دغه راز باید درک کړو چې ولې قوانین جوړېږي او له څه شي ملاتړ کوي. کله چې تاسو خپله دغه موضوع درک کړه، بیا کولای شی له نورو سره مرسته هم وکړی، چې قوانین عملي کړي څو په هېواد، چاپېریال او کارځای کې همغږي رامنځ ته کړي. د قوانینو نه مراعاتول او هغو ته نه پاملرنه، قانون ماتونه او له قانون څخه تېښته، ډېره کله په بېلابېلو بڼو په ټولنه کې ځان را ښکاره کوي، چې له ترافیکي قوانینو او مقرراتو نیولې بیا تر ډېرې جرمي او جنایي دوسیو پورې رسېږي. دا ټول قانون ته نه پاملرنه ده، ځکه د قانون تر پښو لاندې کولو پایله له بې نظمۍ او ګډوډۍ پرته بل څه نه دي او هغه ټولنه چې له دې ډول پدیدې سره مخامخ کېږي، په ډاډ سره ویلای شو چې ودې، پراختیا او پرمختګ ته د رسېدو لاره به یې له ډېرو ستونزو او ننګونو سره مخ وي.

له قانون څخه تېښته او قانون ماتونه هغه پدیده ده چې په ډېری ټولنو کې نن سبا په بېلابېلو عنوانونو او ډولونو لیدل کېږي؛ خو ډېروالی او کموالی یې په بېلابېلو ټولنو کې توپیر کوي.

د دې لپاره چې د دغه ډول قانون ماتونو، ګډوډیو او بې نظمیو مخه ونیول شي، نو د مخنیوي د لومړني ګام اخیستو ځای کورنۍ ده. کورنۍ په اصل کې تر ټولو لومړنۍ؛ خو اغېزناک روزنیز بنسټ دی چې کولای شي ماشومان پکې ښه او غوره اخلاق زده کړي، حلال او حرام وپېژني، د دیني او شرعي اصولو په اړه معلومات تر لاسه کړي او ماشوم په دې وپوهول شي چې قانون ماتول او تر پښو لاندې کول څومره ناوړه عمل دی. دغه چاره کولای شي چې له قانون څخه د دښتې او قانون ماتونې په برخه کې تر ټولو غوره اقدام وي او په ټولنه کې د بې نظمۍ، ګډوډیو او جرمونو کچه راټیټه کړي. کله چې په یوه کورنۍ کې ماشوم پیدا کېږي، نو لومړنۍ الګو اخیستنه یې له خپل مور او پلار څخه وي.

هغه ټولنې چې د قانون له مخې اداره کېږي، قانون ته د درناوي فرهنګ پکې ورځ تر بلې ډېرېږي او هغه کسان د بېلابېلو دولتي ادارو لخوا هڅول کېږي، چې قانون ته درناوی کوي، نو په دې کار سره ورځ تر بلې د قضایي دوسیو کچه پکې ټیټېږي.

نو تر وسې وسې پورې باید د خپل هېواد بېلابېلو قوانینو او د سفر پر مهال د نورو هېوادونو وضع شویو قوانینو ته درناوی وشي، څو له ستونزو او دردسر سره مخ نه شو.

## د بشري حقونو کمېسیون: د ملکیانو زیاتېدونکې مرګ ژوبله د اندېښنې وړ ده

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي چې په افغانستان کې د تاوتریخوالي د زیاتوالي او په ځانګړي ډول د طالبانو او افغان سرتېرو جګړو کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړه اندېښمن دي.

د یاد کمېسیون ویاند ذبیح الله فرهنګ ویلي چې د وري میاشتې پر ۱۳مه نېټه د لغمان ولایت په علیشنګ ولسوالۍ کې د دواړو لورو ترمنځ جګړه کې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۲۱ ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

هغه زیاته کړې: «بدبختانه موږ د تاوتریخوالي شاهدان یو، هره ورځ د افغان سرتېرو او طالبانو ترمنځ جګړه کې ملکي وګړي قرباني کېږي.»



د بشر حقونو خپلواک کمېسیون موندنې ښیي، چې د ۱۴۰۰ کال د وري پر ۱۳مه نېټه د لغمان ولایت د علیشنګ ولسوالۍ په کوټالي سیمه کې د امنیتي ځواکونو او وسلهوالو طالبانو تر منځ نښته کې د ۸ ښځو او ۱۰ ماشومانو په ګډون ۲۱ تنه ټپیان شوي دي او د سیمې خلکو ته مالي زیانونه هم اوښتي دي.

فرهنګ زیاته کړې چې په وروستۍ اونۍ کې ګڼ شمېر کسان په ماین چاودنو، هدفي بریدونو او هوایي بریدونو کې مړه او ټپیان شوي دي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ویاند په خبره، د تاوتریخوالي ختمولو او اوربند ټینګېدل د افغانستان د خلکو اساسي غوښتنه ده او په وینا ښکېل لوري یې باید ومني.

دا په داسې حال کې ده چې د کورنیو چارو وزارت په وینا، په تېرو دریو ورځو کې په ورځ په لغمان، تخار، سرپل، خوست او ننګرهار کې د سرک غاړې ماین چاودنو له امله شپږ ملکیان وژل شوي او ۲۱ تنه نور ټپیان شوي دي.

د کورنیو چارو وزارت د یادو ماین چاودنو مسوولیت پر وسله والو طالبانو اچولی، خو طالبانو تر دې مهاله په دې اړه څه نه دي ویلي.

## دانش: د سولې لپاره د اساسي قانون تعدیل یوه اړتیا ده

ولسمشرۍ مانۍ دویم مرستیال سرور دانش د اساسي قانون په خوندیتوب او دوام د ټینګار ترڅنګ وایي، د سولې لپاره د اساسي قانون تعدیل یوه اړتیا ده.

دانش په داسې حال کې چې د ترکیې ناستې ته چمتووالی روان دی او اټکل دا دی چې په دې ناسته کې به د افغانستان حکومت د راتلونکي جوړښت په اړه پرېکړه وشي، په دې اړه څرګندونې کوي.

سرور دانش چې پرون یې د افغانستان د لویې څارنوالۍ سرپرست ذبیح‌الله کلیم د معرفي په مراسمو کې څرګندونې کولې، وویل، هر وخت چې په افغانستان کې اساسي قانون تر پښو لاندې شوی، ورسره نظام هم پاشل شوی او جګړو ته لاره هواره شوې ده.

نوموړي زیاته کړې: «د اساسي قانون لغوه خپله د فروپاشي او وېشلو معنی ورکوي، نو له همدې امله موږ د اساسي قانون په خوندیتوب او دوام ټینګار کوو، په ورته وخت کې د یوې اړتیا پر بنسټ موږ ټولو د اساسي قانون تعدیل ته مثبته رایه ورکړې ده.»



دانش ویلي، سوله دا ارزښت لري چې ورته د رسېدو لپاره موږ باید د اساسي قانون تعدیل ومنو، خو د هغه مېکانیزم له مخې چې خپله په اساسي قانون کې ذکر شوی، هغه د اساسي قانون د لویې جرګې له لارې دی.

نوموړي د انتخاباتو په اړه د جمهور رییس پخوانۍ څرګندونې یو ځل بیا تکرار کړې او ویې‌ویل، د افغان حکومت رهبري چمتو ده چې سولې ته د رسېدو لپاره د انتخاباتو وخت را لنډ او د نړیوالې ټولنې په څار سره د واک د لېږد لپاره انتخابات وکړي.

په ورته وخت کې د بشر حقونو خپلواک کمېسیون وایي، هغه طرحه‌یې لوستې چې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له افغان حکومت سره شریکه کړې.

د دغه کمېسیون ویاند ذبیح‌الله فرهنګ وایي، د بشر حقونو کمېسیون په دې اند دی چې سوله باید هر اړخیزه وي.

د هغه په خبره: «موږ ټولیزه او هر اړخیزه سوله غواړو، داسې سوله چې ټول افغانان په هغه کې خپل لیدلوری او ارزښتونه وویني، د سولې بهیر یوازې په سیاسي قشر پورې متمرکز کېدل په هېڅ صورت د منلو نه‌دی، تمه لرو چې سوله باید هر اړخیزه وي.»

دا په داسې حال کې ده، چې ټاکل شوې په افغانستان کې د سولې د راوستلو لپاره د ملګرو ملتونو، نړیوالو همکارانو او سیمې هېوادونو په وروستیو هڅو د ترکیې په کوربه‌توب ناسته جوړه شي. په دغه ناسته کې به د یوې تل‌پاتې سولې او د افغانستان د راتلونکي نظام د جوړښت په اړه مهمې پرېکړې وشي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳ |
| € | ۹۰,٦ |
| Rp. | ٤۹۳ |
| ₹ | ۱۰٦۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,۷ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۱۶مه | د ۲۰۲۱ د اپریل پنځمه | ۷۰۳یمه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۲۲ | ۱۷ | ۱۴ | ۲۶ | ۱۳ |
| ۷ | ۶ | ۶ | ۹ | ۱۵ | ۴ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۰ | لمر ختل ۰۵:۳۷ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیګر ۰٤:۲۵ | ماښام ۰٦:۱۹ | ماخوستن ۰۷:۳۸

## نړۍ




## هندي چارواکي: ماویست بریدګرو په تازه نښتو کې ۵۲ پوځیانو ته مرګ ژوبله اړولې



هندي چارواکي وايي چې ماویست یاغیانو په چتیسګر ایالت کې په یوه نښته کې د هند پولیسو او نیمه پوځي ځواکونو ۲۲ منسوبین وژلي او ۳۰ تنه نور یې ټپیان کړي دي.
د دغه هېواد چارواکو ویلي، چې دا په تېرو څلورو کلونو کې د ماویست یاغیانو تر ټولو خونړی کمین دی. چارواکي دغه راز وايي، چې شاوخوا ۲۰۰۰ هندي ځواکونه د بیجپور په ساحه کې د ماویست یاغیانو د یو مشر په لټه بوخت وو چې د دغو یاغیانو له کمین سره مخامخ شول.
دوی ویلي چې نښتې درې ساعته دوام درلود او ښایي د مرګ ژوبلې اصلي شمېرې تر دې هم لوړې وي. د چتیسګر پولیسو ویلي چې په لسګونو هندي سرتېري لاهم بې درکه دي او په دغه نښته کې یو شمېر ماویست یاغیان هم وژل شوي دي. د هندي چارواکو د رسمي معلوماتو په اساس، یاغیانو د هندي ځواکونو وسلې، مهمات، یونیفورمونه او حتا بوټونه له ځانه سره وړي دي. په ورته مهال د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي پر خپل ټویټر لیکلي، چې د دغو سرتېري غچ به اخلي.
د یادونې ده چې ماویست یاغیانو په ۲۰۰۷ز کال کې د هند ۲۵ کمانډو سرتېري په یوه برید کې وژلي وو. تېر کال هم شاوخوا ۳۰۰ ماویست یاغیانو د پولیسو او کمانډو ځواکونو پر یوه ګزمه برید کړی و او ۱۷ سرتېري یې وژلي وو.

## ایران: په ویانا کې اټومي تړون ته د امریکا په بېرته ستنېدو خبرې نه کوو

ایران وايي، په اروپا کې د راتلونکو خبرو پر مهال به اټومي موافقې ته د امریکا په بېرته ستنېدو خبرې ونه‌شي. ټاکل شوې دغه خبرې سبا د اتریش په پلازمېنه ویانا کې ترسره شي.
د ایران د بهرنیو چارو مرستیال وزیر عباس عراقچي هغه راپورونه رد کړي، چې ګواکې ایران به په دې غونډه کې په نامستقیم ډول له امریکا وغواړي چې د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون ته وګرځي. ټاکل شوې د برېتانیا، چین، فرانسې، جرمني، روسیې او ایران ډیپلوماتان د اپریل په شپږمه (سبا) په دې اړه خبرې وکړي.
که څه هم د امریکا د مخکني ولسمشر ډونالډ ټرمپ اداري په یو اړخیزه توګه امریکا له دغه تړون څخه ایستلې وه، خو د نړۍ دغه هېوادونه لا هم له ایران سره پر اټومي تړون ولاړ دي.
د پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ د واک له پای ته رسېدو او د نوي ولسمشر جو بایډن په راتګ نوموړي ویلي، دوی دغه تړون ته ورګرځي، خو ټینګار یې کړی چې ایران باید په دې برخه کې ګامونه پورته کړي، شوې ژمنې دې عملي کړي او له امریکا سره د نوو خبرو ته چمتووالی ونیسي.

## جیلانی: انفجار ماین در سال گذشته یک هزار و ۵۸۰ کشته و زخمی برجای گذاشته است



مسوولان در وزارت دولت در امور رسیده‌گی به حوادث به مناسبت روز بین‌المللی «آگاهی از خطرات ماین» اعلام کرده‌اند که در جریان سال ۲۰۲۰ میلادی یک هزار و ۵۸۰ تن در اثر انفجار ماین‌ها «کشته و زخمی» شده‌اند. این رقم، تلفات غیرنظامیان را در اثر انفجار ماین‌های جاسازی شده نشان می‌دهد.
غلام‌بهاوالدین جیلانی، وزیر دولت در امور رسیده‌گی به حوادث، دیروز در مراسم گرامی‌داشت از روز بین‌المللی آگاهی از خطرات ماین گفت که بااجرای برنامه ماین پاکی حدود سه هزار و ۲۰۰ کیلومتر خاک کشور از وجود ماین‌ها و مهمات منفجرناشده پاک‌سازی شده است، اما یک هزار و ٦۰۰ کیلومتر مربع دیگر هنوز به ماین ملوث است.
جیلانی برنامه ماین‌پاکی را از اولویت‌های حکومت خوانده و گفته است که در سال گذشته وجوهی برای این برنامه اختصاص داده شده بود تا در زمینه پاک‌سازی مناطق ملوث به ماین و مهمات منفجر ناشده، به مصرف برسد.
در این نشست، محمدشفیق یوسفی، رئیس انسجام و هم‌آهنگی تطهیر ماین وزارت دولت در امور رسیده‌گی به حوادث گفته است که با پاک‌سازی سه هزار و ۲۰۰ کیلومتر مربع از کشت‌زارهای ماین، حدود ۲۰ میلیون مهمات و ماین کشف و خنثا شده است.
مک کاری، معاون سفیر امریکا در افغانستان که نیز در این نشست سخنرانی می‌کرد، گفت که کشورش سالانه بیش از ۲۰ میلیون دالر را در زمینه ماین پاکی هزینه می‌کند و انتظار دارد که افغانستان عاری از ماین شود.

## ژوند


## مسکا د ژوند مالګه ده



مسکا کول یو له مهربانۍ ډک عمل دی. له ملګرو او عزیزانو سره د مسکا کولو عادت تمرین کړئ. که څه هم اړتیا نشته چې پر مخ باندې مو د مصنوعي مسکا په لرلو سره دېخوا او هغې خوا منډې ووهی، کله چې کوم چا ته مسکي شی، هغوی به هم په ځواب کې مسکا درته وکړي او ان ژوند ته به یې یو څه نور خوند هم اضافه شي.
بله ګټه یې دا ده چې مسکا کولای شي مغز ته په فریب ورکولو سره له مخکې څخه زیات د خوښۍ احساس تر لاسه کړي. ستاسو له مسکا ټول ګټه اخلي او په دې مسیر کې مو د مینې او مهربانۍ کولو ظرفیت نور هم وده کوي.
مسکا کول د دې لامل کېږي څو نور ستاسو په شتون کې د راحتۍ احساس وکړي. همدارنګه مسکا کول تاسو داسې یو شخصیت معرفي کوي، چې نور کولای شي تاسې ته نږدې شي او دا په خپله د مهربانه اوسېدو یوه لاره ده.

## نوکیا د اپرېل په اتمه خپل نوی موبایل معرفي کوي

نوکیا کمپنۍ اعلان کړی چې د اپرېل په ۸مه به د یوې رسمي غونډې له لارې خپل راتلونکی پیاوړی ځیرک موبایل معرفي کړي. که څه هم نوکیا کمپنۍ د دغه ځیرک موبایل نوم او ځانګړنو په اړه څه نه دي ویلي، خو دغه بلنلیک کې یو کس په ځنګل کې ولاړ ښودل شوی او لاندې ترې د LoveTrustKeep# هش‌ټګ لیکل شوی دی. که څه هم په دې اړه څه ویل به له وخت وړاندې وي، خو اټکل کېږي چې نوکیا کمپنۍ به په دې غونډه کې نوکیا۱۰ ځیرک موبایل معرفي کړي. ببلابېلو افشا شویو معلوماتو کې ادعا شوې چې دغه ځیرک موبایل به د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۷۷۵ ډوله پروسېسر او شاتنۍ برخه




کې پنځه کامرې ولري. افشا شویو معلوماتو کې همدا راز ادعا شوې چې د نوکیا۱۰ اصلي کامره به ۱۰۸ مېګاپکسله وړتیا لرونکی سېنسر ولري. د دغه ځیرک موبایل نوم، ځانګړنې او وړتیاوې به د اپرېل په ۸مه په رسمي توګه له کاروونکو او مینه‌والو سره شریک کړل شي.



عزیزی بانک
Azizi Bank
WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT



د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب
عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې ټي ام او ماسټر ډېبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتنډویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همداراز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او 50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.
www.azizibank.af
1515